## پوښتنه او ځواب

## د یهودانو او عیسویانو په لاس حلالې شوې غوښې خوړل او د هغوی له مېرمنو سره نکاح کول روا دي؟

**پوښتنه**

السلام علیکم ورحمة الله و برکاته

زموږ قدرمنه شېخه! الله دې له هرې بلا وساته.

زما پوښتنه د اهل کتابو د کتاب په اړه ده.اهل کتاب(د کتاب خاوندان) څوک دي؟

قران کریم وایي چې موږ د دوی له مېرمنو سره نکاح کولی شو او د دوی په لاس حلالې شوې غوښې خوړلی شو. ایا دا ډول خلک اوس شتون لري؟ څه ډول دوی له عیسویانو او یهودانو څخه بېلولی شو؟ ډېر به خوښ شم چې پوښتنې ته مې ځواب وویاست.

له یوګندا څخه کاسوزي رمضان

**ځواب:**

وعلیکم السلام ورحمن الله و برکاته!

**﴿الْيَوْمَ أُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبَاتُ وَطَعَامُ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ حِلٌّ لَكُمْ وَطَعَامُكُمْ حِلٌّ لَهُمْ وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ الْمُؤْمِنَاتِ وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلِكُمْ إِذَا آتَيْتُمُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ مُحْصِنِينَ غَيْرَ مُسَافِحِينَ وَلَا مُتَّخِذِي أَخْدَانٍ﴾**

**[المایده: ۵]**

*ژباړه: نن ستاسو لپاره ټول پاک شیان حلال کړای شوي دي. د کتاب د خاوندانو خواړه ستاسو لپاره حلال دي او پاک لمنې ښځې هم ستاسو لپاره حلالې دي، که هغوی د مومنانو له ډلې څخه وي یا له هغو قومونو څخه وي چې له تاسو نه مخکې کتاب ورکړه شوی و. حال دا چې تاسو د هغوی مهر ورکړئ او په نکاح کې د هغوی ساتونکې اوسئ. نه داچې زنا کوونکې اوسئ؛ یا په پټه په غلا یارانې وکړی.*

په دې ایات کې د اهل کتابو په لاس د حلالې شوې غوښې خوراک او د دوی له ښځو سره نکاح کولو ته جواز ورکړل شوی دی.

دلته اهل کتاب هغو کسانو ته ویل شوي چې کتاب ورکړل شوی، هغوی یهودان او عیسویان دي... دا د کویټ په موسوعة الفقهیه کې د کویټې فقها او علماوو رایه او نظر هم دی. په شرعي نصوصو کې د اهل کتابو په لاس حلاله شوې غوښه او د دوی (عیسویانو او یهودانو) له مېرمنو سره نکاح کولو ته جواز ورکړه شوی دی. دا حکم په کفر او پر الله باندې د شرک په کولو باندې کوم اغېز نه لري، یهودان او عیسویان د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په وخت کې کافران وو، په شرک او ګمراهۍ کې یې ژوند کاوه، خو بیا هم دوی اهل کتاب بلل کېدل او پیغمبر صلی الله علیه وسلم په دې مسلې ښه پوهېده، نو دوی هماغه خلک دي لکه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په

وخت کې چې وو: عیسویان له الله سره عیسی علیه السلام شریک بولي او یهودان بیا عزیر علیه السلام له الله سره شریک بولي.

**﴿وَقَالَتِ الْيَهُودُ عُزَيْرٌ ابْنُ اللَّهِ وَقَالَتِ النَّصَارَى الْمَسِيحُ ابْنُ اللَّه﴾**

**[التوبه:۳۰]**

*ژباړه: یهودانو ویل چې عزیر د الله زوی دی او عیسویانو ویل عیسی د الله زوی دی.*

سره له دې هم پېغمبر صلی الله علیه وسلم له دوی سره د اهل کتابو په څېر کړنه کوله، چې د دوی په لاس حلاله شوې غوښه او د دوی له مېرمنو سره د مسلمانانو نکاح کولو ته یې جواز ورکاوه.

هغه کافران چې نه یهودان او نه هم عیسویان دي، لکه زردشتیان یا مجوسیان پېغمبر صلی الله علیه وسلم یې په اړه مسلمانانو ته دغه اجازه نه ده ورکړې.

ابن ابی شیبه په خپل مصنف کې له الحسن ابن محمد څخه روایت کوي چې پېغمبر صلی الله علیه وسلم و فرمایل:

**«كتب إلى مجوس أهل هجر يعرض عليهم الإسلام فمن أسلم قبل منه ومن لم يسلم ضرب عليه الجزية غير ناكحي نسائهم ولا آكلي ذبائحهم»**

د اهل هجر مجوسیانو ته یې ولیکل، دوی ته یې اسلام وړاندې کړ کومو چې اسلام و مانه، ده له هغوی څخه قبول کړ او کومو چې له اسلام څخه مخ وګرځوه نو جزیه یې پرې ولګول او د دوی له ښځو سره یې نکاح او د هغوی له غوښو خوړلو څخه یې منع وکړه.

الهیثمی په خپل کتاب بغیة الباحث کې د زوائد مسند الحارث په حواله لیکي، .... عبدالعزیز بن ابان ثنا سفیان له قیس بن مسلم، هغه له حسن بن محمد بن علی بن ابی طالب څخه روایت کوي چې ده وویل:

**«كتب رسول الله صلى الله عليه وسلم إلى مجوس هجر يسألهم الإسلام فمن أسلم قبل منه إسلامه ومن أبى أخذت منه الجزية غير ناكحي نسائهم ولا آكلي ذبائحهم»**

پېغمبر صلی الله علیه وسلم د هجر مجوسیانو په اړه ولیکل: دوی اسلام ته راوبلئ، چا چې و مانه، له هغوی څخه یې قبول کړئ او چا چې و نه مانه له هغوی جزیه واخلئ او د هغوی له ښځو څخه یې د نکاح کولو او د هغوی له حلال شویو غوښو څخه یې منعه وکړه.

له دې امله، د قران په سپېڅلو ایاتونو کې د اهل کتابو یادونه شوې چې عیسویان او یهودان دي او نن ورځ هم شته. په نوموړو ایاتونو کې نور کافران نه دي راغلي او یوازې پکې د عیسویانو او یهودانو یادونه شوې، نو د دغو دوو ډلو له ښځو سره د نکاح کولو او د هغوی د حلال شویو غوښو د خوړلو جواز شته.

خو دلته دوې مسلې دي چې حتمي یې باید یادونه وشي چې هغه د اهل کتابو د ښځو سره د نکاح کولو او د هغوی له حلالو شویو غوښو د خوړلو اړوند دي:

۱- په نصوصو کې چې د اهل کتابو د حلال شویو غوښو په اړه چې کوم جواز راغلی، د هغو مباحو غوښو په اړه دی چې د شرعي طریقې سره سمې حلالې شوې وي.

الف-دا روا نه ده چې د دوی په لاس هغه حلاله شوې غوښه وخوړل شي، چې په اسلام کې ترې منع راغلې لکه د خنزیر غوښه چې خوړل یې ناروا دي. که څه هم دا حیوان د مسلمان په لاس حلال شوی وي یا هم له اهل کتابو څخه څوک وي... د اهل کتابو په لاس د هغو حلالو شویو حیواناتو او مرغانو غوښې خوړل روا دي چې په شریعت کې روا بلل شوې وي.

ب- دا هم نه ده روا چې داسې غوښه وخوړل شي، چې په شرعي طریقه نه وي حلال شوي لکه د هغو حیواناتو غوښې خوړل چې په شرعي طریقه نه وي حلال شوي. د بېلګې په توګه، حیوان یا مرغه په خفه مړ کول، پر سر باندې په وهلو مړ کول یا د برق په جرقه باندې مړ کول...لکه څرنګه چې دا کړنې نن ورځ د غربي کمپنیو له لوري ترسره کېږي. د داسې غوښو خوړل نه دي روا ځکه دا ډول غوښې په شریعت کې میته(مرداره) بلل کېږي، نو د میتې خوړل حرام دي. داسې حیوان که د یو مسلمان په لاس هم په غیر شرعي ډول حلال شي، د غوښو خوراک یې نه دی روا، که دا غیر شرعي طریقه د اهل کتابو له لوري هم ترسره شي د دې ډول غوښو خوړل ناروا دي، نو په دې مسله کې په مسلمان او اهل کتابو کې کوم توپیر نشته.

۲-سپېڅلی ایات د دوی له ښځو سره په نکاح کولو کې (حصن) یانې پاک لمنې اړینه بولي، په ایات کې راځي:

**﴿الْيَوْمَ أُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبَاتُ وَطَعَامُ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ حِلٌّ لَكُمْ وَطَعَامُكُمْ حِلٌّ لَهُمْ وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ الْمُؤْمِنَاتِ وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلِكُم﴾**

**[ المایده:۵]**

*ژباړه: نو ستاسو لپاره ټول پاک شیان حلال کړای شوي دي. د اهل کتابو خواړه ستاسو لپاره حلال دي او ستاسو خواړه د هغوی لپاره حلال دي او پاک لمنې ښځې هم ستاسو لپاره حلالې دي که هغوی د مومنانو له ډلې څخه وي یا له هغو قومونو څخه وي چې له تاسو څخه مخکې کتاب ورکړل شوی و.*

المحصنه پاک لمنې ښځې ته وايي چې زنا کاره نه وي؛ دا د مسلمانې ښځې څرګنده نښه ده. اوس مهال په غربي هیوادونو کې د یهودانو او عیسویانو لپاره زنا کول داسې عام دي لکه خوراک او څښاک. زنا کول یو عادي کار دی چې ښځې او نارینه یې ترسره کوي او بد یې هم نه ګڼي او ډېر لږ به داسې ښځې پیدا شي چې بلوغ ته رسېدلې وي او زنا یې نه وي کړې. له دې امله، مخکې له دې چې له اهل کتابو مېرمنو سره واده وشي دا باید خامخا څرګنده شي چې دا مېرمنې پاک لمنې دي او په زنا کولو باندې نه دي مشهوره.

له دې امله دا روا ده چې د اهل کتابو له ښځو سره نکاح وشي، خو هغه وخت چې دا پاک لمنې وي او زنا یې نه وي ترسره کړې. که مسله همداسې وي بیا نو واده کول ورسره روا دي... که څه هم دې مسلې ته په کتو د اهل کتابو له ښځو سره واده کول روا دي، خو غوره دا ده چې له یوې مسلمانې مېرمنې سره واده وشي. د عمر رضي

الله عنه له ښرګندونو څه هم داسې ښکاري چې ده به خپلو اصحابو ته ویل چې له اهل کتابو ښځو سره نکاح ونه کړي، له مسلمانې ښځې سره باید نکاح وکړي چې مسلمانې ښځې بې واده پاتې نه شي

هیله من یم چې پورته ښرګندونو سره مو پوښتنه ځواب شوې وي.

**ستاسو ورور**

**عطا بن خلیل ابو رشته**

**۱۴۴۰هـق، د شوال ۲۱مه**

**۲۰۱۹م، د جون ۲۴مه**